# د ترانسپورټي عوایدو د راټولولو د سیسټم د ښه والي طرحه

**طرح**

**۱۳۹۵ لمریز کال د تلې میاشت**

**دا طرحه د افغانستان د اسلامي جمهوریت د عالي اقتصادي شورا د ۲۲ ګڼې او ۱۳۹۵/۴/۹ نیټې مصوبې پر بنسټ د ترانسپورټ وزارت د عوایدو د راټولولو د ښه والي په موخه د مالیې د محترم وزارت د عوایدو د لوی ریاست له خوا د ترانسپورت او هوایي چلند د وزارت، کابل ښاروالي او نورو اړونده ادارو په نږدې همکاري جوړه شویده**

**د ترانسپورت محترم وزارت دعوایدو د کچې د زیاتوالي او د عوایدو دضایعاتو د مخنیوی طرحه**

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د اقتصادی عالی شورا د ۱۳۹۵/۴/۹ نیټه ۲۲ غونډی د تصویب پر بنسټ د مالیې محترم وزارت ته دنده سپارلی شوی ده تر څو یو کاري ګروپ چه اړونده اداراې او خصوصی سکتور پکی شامل وی جوړکړی، تر څو د ترانسپورتی عوایدو د راغونډولو د سیستم د ښه والی لپاره یوه جامع طرحه ترتیب او وړاندی کړی. د اړتیا په صورت کی د معلوماتی تکنالوجی د متخصیصینو او تخنیکی همکارانو او د ولسمشر د سلاکار جناب محترم همایون قیومی سره د اړونده موضوع په اړه خبری وشی.

د پورتنی ذکر شوی لاربنود په تعقیب دمالیی محترم وزارت د عوایدو عمومی ریاست د حقوقی خدمتونو او پالیسی ریاست یو شمیرمکتوبونه د ترانسپورت او ملکی هوایی چلند محترم وزارت، د سوداګری او صنایعو محترم وزارت، د ګمرکونو عمومی ریاست،

د افغانستان د تجارت او صنایعو خونی او د عوایدو عمومی ریاست دغیرمالیاتی عوایدو محترم ریاست ته ولیږل او د باصلاحیته استازو د راپیژندلو غوښتنه یې ترې وکړه.

وروسته تر هغه، دعوایدو عمومی ریاست د حقوقی خدمتونو او پالیسیو او د غیرمالیاتی عوایدو محترمو ریاستونو یو شمیر غونډې، د ټرانسپورټ د محترم وزارت د مالی او اداری معین، د مالی او اداری او ځمکنی ټرانسپورټ لوړ پوړو چارواکو، د مخابراتو او معلوماتی تکنالوژی د محترم وزارت د ټکنالوژی د محترم معین او د کابل ښاروالی د عوایدو له رییس سره دایرې کړی چه په پایله کی پر لاندی ټکو توافق وشو .

**هدف:** د دغی طرحی هدف د ترانسپورتی عوایدو زیاتوالی، د ایتلاف څخه یی مخنیوی، دعوایدو د راغونډولو د احتمالی لاری خنډ خطرونو پیژندنه او د حل لارو د موندلو هڅی او د عوایدو د سیستم ښه والی دی.

**مبنا:** د ترانسپورت او د ملکی هوایی چلند محترم وزارت خپل عواید د ( د ځمکنی نقلیه وسایطود سیر او فعالیت د تنظیم) قانون د حکمونو او د ۱۰ مادې او ۳ شمیرى ضمیمې پر بنسټ راغونډوی.

**د ملکی هوایی چلند او ترانسپورت محترم وزارت څلور ډوله عوایدی سرچینی لری چی عبارت دی له :**

1. **د ترانسپورتی خدمتونو ټکس:**
   - د بار وړونکو وسایطو لپاره ۵٪ (۲٪ د مال دخاوند څخه او ۳٪ د چلوونکی څخه)

   **د محاسبی طریقه:**

   ۱. (۳,۶ افغانی/تن/کیلومتر X ۵٪) د پاخه سړکونو لپاره

   ۲. (۴,۲ افغانی /تن/کیلومتر X ۵٪) د خامه سړکونو لپاره

   - د مسافر وړونکی ترانسپورت لپاره ۳٪ د ځمکنی نقلیه وسایطود سیر او فعالیت د تنظیم د قانون د ۳۱ مادی پر بنسټ

   **د محاسبی طریقه:**

   ۱. (د مسافرو شمیر X کرایه/کس X ۳٪)

2. **ارزښت لرونکی پاڼې:**
   - دری پاڼو کمیشن (۴) افغانی پر پاڼه.
   - د نقلیه وسایطو د خط السیر کتابچه کلنی(۵۰۰) افغانی د ځمکنی نقلیه وسایطود سیر او فعالیت د تنظیم قانون د ۳۰ مادی پر بنسټ

**3. جریمې:**

د ترانسپورتی واسطی لخوا د کوم سرغړونی د واقع کیدو په صورت کی د قانون د حکمونو پر بنسټ جریمه اخستل کیږی، چه په لاندینی جدول کی په لنډه توگه ذکر شوی دی:

| شمیره | د قانون ماده | د جریمی بڼه | د جریمی توضیح |
|---|---|---|---|
| ۱ | ماده ۳۰ | د کتابچې مثنی | ۱۵۰۰ افغانی |
| ۲ | ۳۶ ماده | د کمیشن نه ورکول | ۴ چنده جریمه |
| ۳ | ۳۷ ماده | دخط السیر د کتابچې جریمه | د هر میاشتی په تیریدو سره ۲۰۰ افغانی |
| ۴ | ۶ ماده ۲ ضمیمه | د بار وړونکو موټرو د خط السیر خلاف حرکت کول | تر ۶۰۰۰ افغانیو پوری |
| ۵ | ۵ ماده ۳ ضمیمه | پرته له کوم دلیله تر یوې میاشتی زیات دریدل (توقف) | لاری ۳۰۰۰، بس ۱۰۰۰، تکسی ۱۰۰ افغانی |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۶ | ۷ ماده ۳ ضمیمه | له گمرک څخه د مکتوب اخیستلو څخه وروسته د نه مراجعي په صورت کی. | هر ټن ۵۰۰ افغانی |
| ۷ | ۹ ماده ۳ ضمیمه | د خط السیر څخه خلاف د حرکت په صورت کی د لینی بس لپاره | ۳۰۰۰ افغانی د لومړی ځل لپاره او د تکرار په صورت کی ۶۰۰۰ افغانی |
| ۸ | ۳۴ ماده | د چکړه موتر بدلول په تانکر یا سرویس او یا دهغه برعکس پرته له دی چه د ترانسپورت اداره په جریان کی وی | ۲۰۰۰ افغانی د چکړه موتر نه تانکر یا سرویس ته ۵۰۰۰ افغانی د برعکس لپاره |

**د ترانسپورتی عوایدو د لاسته راوړلو اوسنی طریقه:**

**۱. د ترانسپورتی خدمتونو کمیشن:**

د ترانسپورتی خدمتونو مالیه په بندرونو او د ښار په خروجی دروازو کی اخیستل کیږی، لکه د کابل په ۵ دروازو کی د ترانسپورت وزارت آمریتونه شتون لری، چی چلوونکی له ترانسپورتی دروازې څخه د تیرویدو په وخت کی آمریت ته مراجعه کوی اود خط السیر کتابچی په وړاندی کولو ( د باروړونکو وسایطو په صورت کی) د موتراو بار وزن او د (مسافر وړونکو وسایطو په صورت کی) د کتابچی له مخی د هغوی مالیه محاسبه او په فزیکی ډول د هغوی څخه اخیستل کیږی او په یو بکس کی اچول کیږی. د ترانسپورت محترم وزارت د مسولینو د خبرو پر بنسټ دغه پیسی په اوونی کی دوه ورځی (یکشنبه او چهارشنبه) د ځمکنی ترانسپورت محترم ریاست ته انتقالیږی چی د اسنادو په استناد او تعرفو سره بانک ته سپارل کیږی.

**۲. ارزښت لرونکی پاڼی:**

- د خط السیر د کتابچی فیس د ترانسپورت محترم وزارت په مربوطه اداراتو کی د رسید په مقابل کی اخیستل کیږی، او وروسته د مسولینو په واسطه بانک ته انتقالیږی.
- د دری پاڼو (سه پارچه) کمیشن قیمت د کمیشن د لاسته راوړولو په وخت کی اخیستل کیږی، او وروسته د شته روال له مخی د مسولینو په واسطه بانکی حساب ته استول کیږی.

**۳. جریمی:**

- **د مثنی جریمه :** د مراجعی په وخت کی اخیستل کیږی او وروسته مربوطه بانکی حساب ته استول کیږی.
- **د کمیشن د نه تحویلی جرمونه :** د نیول کیدو په حالت کی په فزیکی توګه د رسید په مقابل کی اخیستل کیږی او وروسته د مسولینو په واسطه بانک ته استول کیږی.
- **د کتابچی جریمه:** د مراجعی او یا نیول کیدو په حالت کی په نغدی ډول د رسید په مقابل کی اخیستل کیږی او وروسته مربوطه بانکی حساب ته استول کیږی.
- **د خط السیر خلاف د حرکت جریمه:** د بار وړونکو او مسافر وړونکو موترو لپاره د نیول کیدو په وخت کی د پوستی د مسولینو په واسطه د رسید په مقابل کی اخیستل کیږی چه وروسته بانک ته استول کیږی.
- **د گمرک څخه د مکتوب ترلاسه کولو ورسته د نه مراجعی جریمه:** د نیول کیدو په حالت کی د رسید په مقابل کی اخیستل کیږی او مربوطه بانکی حساب ته استول کیږی.
- **د چکړه موتر بدلول په تانکر یا سرویس او یا برعکس پرته له دی چی د ترانسپورت اداره په جریان کی واچول شی:** د نیول کیدو په حالت کی د رسید په مقابل کی اخیستل کیږی او مربوطه بانکی حساب ته استول کیږی.

**ذیدخله ارگانونه:**

- **قانونی:** د کورنیو چارو وزارت، د سوداګرۍ او صنایعو وزارت، د ټولګټو وزارت، د افغانستان بانک، د ګمرکونو عمومي ریاست، ښاروالیانې او د سوداګرۍ او صنایعو خونه.
- **غیر قانونی**: د کابل په خروجي دروازو کې د غیر قانوني تمځایونو شتون د بېلګې په ډول دمسافر وړونکو شخصي وسایط ولایتونو د سفر په جریان کې د شخصي تمځایونو مسوولینو ته ډیرې زیاتې پیسې ورکوي. دا په داسې حال کې ده چې دا وسایط د ټرانسپورټي قانون په رڼا کې د مسافرینو د وړلو حق نلري. او د داسې فعالیت د تر سره کولو په صورت کې باید ور څخه جریمه واخیستل شي.

**د ترانسپورتی عوایدو د ترلاسه کولو په اوسنی طریقه کې ستونزې او ضایعات :**

- اوسنی قانون چې د ( ځمکنی ټرانسپورټي وسایطو د سیر او فعالیت د تنظیم) قانون په نوم چې له ۱۳ د غبرګولی ۱۳۵۸ څخه تر اوسه پورې د اجراء وړ دی، د نن ورځې ډیرو اړتیاوو ته ځواب نشي ویلای.
- د هیواد په مرکز او بندرونو کې د عوایدو د راغونډولو د یو داسې سیستم نه شتون چه نني اړتیاوو ته ځواب ووایي او ترڅنګ یې د مراجعینوله سرګرداني او د عوایدو د ضایعاتو څخه مخنیوی وکړي.
- د ارزښت لرونکو پاڼو د کیفیت ټیټوالی.
- د تعرفې په لومړۍ او دویمه او دریمه پاڼه کې د اخیستل شویو پیسود مبلغ تر منځ توپیر. .
- د ویشل شوو او په ډیپوګانو کې د موجودو ارزښت لرونکو پاڼو د دقیقې احصاییې نشتون.
- د هیواد په ګوټ ګوټ کې د غیر قانونی تمځایونو شتون په ځانګړې ډول د کابل په ۵ دروازو کې.
- د کورنیو چارو وزات لخوا اطرافي ټکسیانو ته د نمبر پلیټونو نه توزیع، چه دغه کار ددی باعث شوی چه له یوه پلوه د دولت عوایدو ته ضربه ورسوی او له بله پلوه له دې وسایطو څخه د ټکسی په توګه ګټه اخیستل کیږی چې امنیتی مشکلات منځ ته راوړی، او د چلوونکی هویت د هیڅ یو ارګان سره ثبت نه دی.
- د کوم موجه دلیل څخه پرته د ښاری ټکسی د نمبر پلیټونو نه توزیع چې دغه کار ددی باعث شویدی چه له یوه پلوه د دولت عواید ضایع شی او له بله پلوه د شخصی موټرونو څخه د ښاری ټکسی په توګه ګټه واخیستل شی، چې په ځینی مواردو کې مجرمین له دا رنګه وسایطو څخه د جنایی اعمالو د ترسره کولو لپاره ګټه اخلی چې هغوی هیڅ قانون ته غاړه نږدی.
- بیله پلیټه د لویو مسافر وړونکو وسایطو شتون او په بندرونو او تمځایونو کې ټرانسپورټي مسوولینو ته د ترانسپورتي کمیشن نه ورکړه.

  په بندرونو او تمځایونو کې ډیر شمیر موټرونه شته چې په ګمرک کې محصول شوی خو تر اوسه یې ترافیکو ته د سیر د جواز لپاره مراجعه نه ده کړې، او بیله نمبر پلیټ څخه فعالیت کوی.
- د مامورینو د کاری ظرفیت ټیټوالی او د معلوماتی تکنالوجی څخه نه خبرتیا.
- په بندرونو کې د ذیربطه ارګانونو تر منځ د لازمی همغږی نه شتون، ځکه چې د ترانسپورت، ټولګټو، مالیي او کورنیو چارو وزارتونو او ښاروالی تر منځ هیڅ ډول کاری میکانیزم شتون نه لری چه دغه کار ددی باعث شوی چه له یوه پلوه دوه ګونی اجرآت را منځ ته کړی او له بله پلوه په هغه بندرونو کې بیروکراسی باعث و ګرځی.
- د بارچالانی او ټرانزیټی او ترانسپورتی شرکتونو تر منځ د فعالیتونو د ډول تفکیک نه شتون. د یادونې وړ ده چه د بارچالانی او ټرانزیټی شرکتونو ته جواز د سوداګری او صنایعو د محترم وزارت لخوا او ټرانسپورټي شرکتونو ته د ترانسپورت محترم وزارت لخوا د فعالیت اجازه ورکول کیږی.
- د ښارونو په دخولی او خروجي دروازو کې د معیاری ترمینلونو نه شتون، چې په کمپیوتری سیستم مجهز د عصر د غوښتنو ته ځواب ویونکی او د مسافرو او مالونو لپاره د اسانتیاوو درلودونکی وی.
- د زورواکو او بی مسولیته اشخاصو لخوا د تمځایونو جوړول او کنترول.
- د بی مسولیته کسانو لخوا د تمځایونو جوړول او په غیر قانونی ډول د پیسو اخیستل. د مثال په ډول ( د کابل په ښار کی د حامد کرزی هوایی ډګرمخته، او د فروشګاه په تمځای کی غیر مسول کسان په غیر قانونی ډول د مسافر وړونکو وسایطو څخه پیسی اخلی)

**وړاندیزونه:**

**عاجل وړاندیزونه:**

- د کورنیو چارو وزارت ته په عاجله توگه هدایت ورکړل شي تر څو د کابل ښار په دروازو او د هیواد په نورو ښارونو کی د غیر قانونی تمځایونو او غیر قانونی اخیستنو څخه مخنیوی و کړی.
- د ځمکنی ټرانسپورټ د سیر او فعالیت د تنظیم د قانون د د نوی طرحی تعقیب چی شااو خوا دوه کاله وړاندی د عدلیی محترم وزارت ته لیږل شوی ولی تر اوسه په هغه وزارت کی تر بحث لاندی نه ده نیول شوې. ترڅنگ د ترانسپورتی خدمتونو او عوایدو د راټولولو د میکانیزم د ښه والی لپاره نوی تعدیلات په دې قانون کی په پام کی و نیول شی.
- په ښارونو او بندرونو کی د عوایدو د راغونډولود سیستم، د غیر مسوولو کسانو جیبونو ته د دولت د عوایدو د تگ د مخنیوی په پام کی نیولو سره او په عین حال کی د طعام د صرف کولو، د لمانځه د ادا کولو او د مسافرین د انتظار او د مالونو د مالکینو د مالونو د خوندیتوب او ساتنی لپاره په ټکنالوژیکی لوازمو سنبال د نوی او معیاری ترمینلونوجوړول.
- په لنډ مهال کی د شخصی مسافر وړونکو وسایطو لپاره د ستیکرو ویشل تر څو له شخصی وسایطو څخه یې تفکیک وشی.
- هغه وسایطو ته چه د مسافر وړنی لپاره کارول کیږی، د ښاری او اطرافی ټکسیانو د نمبر پلیټونو ویشل او د ترافیکو محترمه اداره د ټکسی پلیټونو او د سیر د جواز ا دویشلو لپاره لازمی اسانتیاوی رامنځته کړی تر څو پروسه ساده شی.
- په ښارونو کی دننه د ښاری ټکسیانو او بسونو معرفی کول او د خصوصی سکتور له خوا د ښاری باروړونکو وسایطو تنظیم او د عوایدو را ټولول، او د ترافیکو او ښاروالیو د ادارو سره په همږغی د مسافر وړلو او باروړولو د اسانتاوو برابرول.
- د وسایطو د کمیشن په لایحه کی تجدید نظر څکه چی تر اوسه د ۱۳۸۴ کال لایحه د اجراء وړ ده.
- د ښارونو د ورودی دروازو د امنیت ساتنه چیری چی ترانسپورتی عواید را ټولیږی.
- د جرایمو په اړه باید له سره غور وشی تر څو د اطاعت پزیری کچه لوړه شی او له سرغړونو څخه مخنیوی وشی.
- د ترانسپورت محترم وزارت ته فزیکی کتنی صلاحیت ورکول.

**د عواید د راټولولو د سیستم په اړه وړاندیزونه:**

- د عوایدو د راټولولو لپاره د یو روڼ سیستم او میکانیزم رامنځته کول.

**لومړی ټاکنه:**

د مسافر وړونکو او بار وړونکو وسایطو له ټیټنتی څخه د مخنیوی پخاطر په عایداتی ښارونو او بنادرو کی په پرسونل او ټولو وسایلو مجهز کنترولی او کمپیوتری سیستم جوړول .

د وسایطو چلوونکو ته د یو الیکترونکی کارت اجرا چی دا کارت به د خط السیر د کتابچې ځای و نیسی.

ټولی هغه مشخصات چی د خط السیر په کتابچه کی شتون ولری، په سیستم کی ثبت شی او کارت د ماشین پواسطه د لوستلو وړ وی.

ټرانسپورتی بندر ته د مراجعی پر وخت کی کارت ماشین ته داخلیږی او ټول مشخصات د اړوند کارکوونکی په کمپیوټر کی څرګند شی، او د شته مشخصاتو په پام کی نیولو سره سیستم په اوتومات ډول سره کمیشن محاسبه او درې پانی لرونکی رسید پرنټ کوی، د پیسو ورکړه پوسټ پیډ یا پری پیډ وی. د رسید دوې پانی چلوونکی ته ورکول کیږی او یوه پانه د ټرانسپورټ ادارې په ریکارډ کی پاتې کیږی. چلوونکی یوه کاپی ځان سره ساتی او بله کاپی له دروازې نه د تیریدو پر مهال مربوطه کارکوونکو ته ښکاره کوی.

**د نوموړی سیستم اړتیاوی:**

1. مرکزی ډیټابیس
2. انترنیټ
3. په بندرونو کی د سیستم سره نښلیدلی غرفی
4. تخنیکی او مسلکی کارکونکی
5. کمپیوتر او مجهز دفترونه او تاسیسات
6. بریښنا
7. د پانگه اچونی مقدار:

**دوهمه ټاکنه:**

**د رادیو فریکونسی پیژندنی (RFI) سیستم عملی کول:**

هر ترانسپورتی واسطې ته یو ټیګ ورکول کیږی، او دغه ټیګ د واسطې د ټولو ځانګړتیاوو درلودونکی وی، چی په مرکزی سیستم کی ثبت دی.

سیستم د تیریدو په دروازو کی نصبیږی چی له دروازې څخه د واسطې د تیریدلو پر مهال د موټر ټول مشخصات په اوتومات ډول د واسطې له ټیګ څخه اخلی او دهغوی کمیشن محاسبه او په اوتومات ډول په سیستم کی ثبت او د واسطې له حساب څخه ګرځول کیږی.

**د نوموړی سیستم اړتیاوی:**

1. مرکزی ډیټابیس
2. الیکترونیکی دروازی
3. تخنیکی او مسلکی کارکونکی
4. انترنیت
5. د دروازو امنیت
6. په کمپیوټر مجهز تاسیسات او دفترونه
7. بریښنا
8. د پانګه اچونی مقدار:

**د پورته ذکر شوو پروګرامونو د اجراء کولو طریقه:**

دواړه ذکر شوی ټاکنی له دوو لارو د اجرا وړ دی.

**۱. PPP یا د عامه او خصوصی سکتور ګډون:**

په دغه طریقه کی دولت ذکر شوی پروژې لاټ بندی کوی او داوطلبی ته یی سپاری، خصوصی سکتور د داوطلبی په پروسه کی د ګډون کولو سره خپل پروپوزل د مالی پلانونو سره یو ځای وړاندی کوی، دولت د پر مختللی سیستم په انتخابولو او مناسبی پانګونی د دولت د مالی ګټو او عوایدو په پام کی نیولو سره پروپوزلونه څیړی او د هغوی څخه یو خوښوی او د هیواد د شرایطو او عینی واقیعتونو په پام کی نیولو سره د خصوصی سکتور سره خبری اتری پیل کوی.

**۲. د دولت په مدیریت او پانګه اچونی سره:**

دولت کولای شی چه دخپل امکاناتو څخه په ګټه اخیستو دغه برخه کی پانګه اچونه و کړی او پروګرام مدیریت کړی.

(نوټ)په هغه صورت کی چه سیستم عملی شی، باید ټول ارزښت لرونکی اسناد چی تر اوسه ورڅخه ګټه نه ده اخیستل شوې، له اعتبار څخه ساقط شی. او د ذیصلاح مقام په حکم د یو ګډ هییت په واسطه یا څنګه چی اړوند قانون حکم کوی له منځه وړل کیږی.

**متفرقه وړاندیزونه:**

- **د اړوندو ارګانونو د تاسیساتو او امکاناتو څخه ګټه اخیستنه:**
  په سرحدونو کی د اړوندو وزارتونو له شته تاسیساتو څخه باید په ګډه کار واخیستل شی. په سرحداتو کی د ګمرک ترازو شتون لری باید د ذکر شوی ترازو څخه د ترانسپورت او ټولګټو وزارت کارکونکی هم ګټه واخلی تر څو له یوې خوا د ټرانسپورت محترم وزارت د عوایدو د ضایعاتو څخه او له بلی خوا د ګمرکونود عوایدو له ضایعاتو څخه مخنیوی و شی. او ترڅنګ یی د مربوطه وزارتونو له زیاتو لګښتونو څخه هم مخنیوی وشی.  په عین حال کی په هغه ځایونو کی چی د نورو وزارتونو تاسیسات شتون و نه لری د ټولګټو د محترم وزارت یا ښاروالی له تاسیساتو څخه ګټه واخیستل شی. د بیلګی په ډول د ټولګټو وزارت د عوایدو د اتلاف اصلی دلیل د تلو نه شتون بولی او د نویو تلو د پیرلو لپاره زیات مبلغ ته اړتیا لری په داسی حال کی د ګمرکونو عمومی ریاست د هیواد په دخولی او خروجی نقطو کی فعالی تلی لری. نو باید د ټولګټو محترم وزارت ته د دغه تلو څخه د ګټی اخیستلو اجازه ورکړل شی.
- **په هغه صورت کی چه د الیکترونیکی ورکړی (E-Payment)سیتم تطبیق نه شی:**
  که چیری د مخکی ورکړی(Prepaid) یا وروسته ورکړی(Post paid) کارت سیستم عملی نشی، په هغه صورت کی باید د دولتی یا خصوصی بانکونو څانګی په مرکز او د هیواد په عایداتی بندرونو کی د ولایاتو په شمول پرانیستل شی. چی د تعرفی د اخیستلو سره سم د واسطی د مالک تثبیت شوی پیسی بانک ته تحویل کړی. د یادونی وړ ده چی د صکوکو د مطبعی له لاری د خط السیرد کتابچی، د کمیشن او ترانسپورتی جرایمو د دریې پاڼو په شمول د ارزښت لرونکو پاڼو معیاری کول

ډیر زیات اړین دی. ځکه په اوسنی حالت کی ارزښت لرونکی پانی په ډیره اسانی سره جعل کیدای شی چی د ترانسپورټی عوایدو د ډیر زیات اتلاف باعث گرځی.

- **د گمرکونو همکاری:**

د گمرکونو د اسیکوډا په سیستم کی د سرې میاشت حسابونه د سیستم له لاری محاسبهاو په اوتومات ډول د اموالو د مالکینو په واسطه د گمرکی مکلفیت د تحویلی په وخت کی د سرې میاشتی حساب ته تحویلیږی، مونږ کولای شو د یو مشخص میکانیزم په جوړولو سره د ذیربطه ارگانونو د موافقی په صورت کی د ټرانسپورټ وزارت، د ټولگټو وزارت او ښاروالیانو عواید د سیستم له لاری په یو ځای کی محاسبه او په یو اویز کی د گمرکی تعرفو د تحویلی پر وخت د ذکر شویو اداراتو مربوطه حساب ته تحویل کړو. (مشخص د سرحدی بندرونو لپاره).

**د ټرانسپورټ او هوایي چلند د وزارت استازی (                    )   د کابل ښاروالی استازی (                    )**

**د مالیي وزارت استازی (                    )**